(c) ketabton.com: The Digital Library

گرځمه له تا سره چکر وهم
ناست که په کوټه کې یم جانانه زه

ستا د مخ له ورانګو څخه ورانګه یم
ستا په رابطه کې یم جانانه زه

اې خوا له د ېوا له څه شی نه وینم
څومره په خطره کې یم جانانه زه !

ورک رانه په ځان کې شوې حیران یمه
تا وې په ساده کې یم جانانه زه.

۱۳۸۵/۱۰/۱۳
حیدرآباد

د ګلو کر کې ازغي خپله کېږي
کر د مالي په خوښه کله کېږي

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدرگــــه ورســــره درســــته نــــړۍ راغلـــــه
پاچـا شــته کـه پکــې نشــته شــړۍ راغلــه

لــــه اســـمانه پـــه بمونـــو پـــورې ښـــخه
ماشــــومانو تـــــه ډبلـــــه مــــړۍ رغلـــــه

د غمـي غونـدې "پاچـا "بـه درنـه خلاص کړم
کــه پــه گوتــو دې ښــاماره غــړۍ راغلــه

پــه هــوا کـې ټـوپ وهلـو تـه مجبـور شـوم
د زینـــې د ســـر خوینـــه پـــوړۍ راغلــــه

زمـا لاس د ورور د مرسـتې پـه تـور غـوځ شـو
د ســـتا لاس تـــه لـــه بهـــره گـــړۍ راغلــــه

ســتا پــر شــونډو د ســاده غــزل شــو ختـم
غورېـــدلې د غوټیـــو کـــړۍ راغلــــه.

۱۳۸۸/۰۸/۲۳
حیدرآبا

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ - www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس په حکم د الله(ج) سره ژوندي شول
بس په حکم د لله(ج) سره سړي شول
پرېښتو په دسترخوان باندې راټول کړل
نوي ژوند په نوي شان باندې راټول کړل

مکائيل(ع) ته ورمالومه قرباني شوه
ورمالومه د انسان مهرباني شوه

☆ ☆ ☆

له جليسه مسافرو رخصت واخيست
پرېښتو په ښو خبرو رخصت واخيست

☆ ☆ ☆

پر ښو خلکو وي د خدای(ج) امتحانونه
ډېرو، ډېرو قربان کړي دي ځانونه
قرباني د ابراهيم(ع) راته ياد بړي
اسماعيل(ع) مې هم په سترګو کې غړېږي

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ - www.ketabton.com

